مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: جیفري رابرټس
مترجم: عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۰۹/۱۸

# محمد داوود، د شوروي - افغان موافقتنامې او د جنګ خواته حرکت، ۱۹۵۵-۱۹۷۹
## څوارلسم فصل
### دویمه برخه

د اساسي قانون د جوړېدلو او نافذېدلو ترمنځ یوه کال کې، دوو مشهورو کیڼ اړخو افغانانو، نورمحمد تره کي او ببرک کارمل، په پټه، د خلق ډیموکراتیک ګوند تشکیل کړ. د دې ګوند د صفوفو تر ټولو زیات غړي پوځي افسران ول او نور نو ملکي مامورین، ښوونکي، محصلین او تازه فارغ سوي کسان وه. ځیني څېړونکي ادعا کوي چې د دې ګوند غړي زیاتره بې ریښې چپیان او ډېر نور غړي یې جنایتکار عناصر وه. د ۱۹۶۵ کال د انتخاباتو څخه وروسته، کارمل د ګوند غړي محصلین اولسي جرګې ته بلل او هغوی به شعارونه ورکول او د اولسي جرګې یې جلسې یې اخلالولې. بالاخره یوه بلوا جوړه سوه او په هغې کې درې تنه ووژل سول او یو شمېر نور ټپیان سول. ببرک داسي یو حالت راووست چې د دولت اجرائیه قوه یې تقریباً له کاره وغورځوله. په لسو کالو کې څلور کابینې جوړې او څلور حکومتونه ړنګ سول.
افغانستان، چې په ملي سطح یې د ډیموکراسی تجربه نه درلوده، د اساسي قانون له تجربه کولو سره مخامخ سو او هغه یو لوی خنډ ورته ایجاد کړ. مخکې پاچاهانو د داسي اساسي قانون ملاتړ کړی وو چې یو ډول پارلمان به یې منځته راوړی وو مګر هغه پارلمانونو زیاتره د یوې مشورتي جرګې شکل درلود او د مطلقه شاهي هر ډول کارونه به یې حمایه کول. په کلیو کې محلي جرګو دعوې او ستونزې حلولې او دهقانانو او کوچیانو معمولا کوښښ کاوه چې خپلې دعوې مرکزي حکومت ته یونه سي. ډېر کلیوال له دې څخه بېرېدل چې دا نوي انتخابات د حکومت یو چل دی او غواړي په دې توګه د مالیاتو معلومات وکړي او عسکری ته خلک کش کړي. په نتیجه کې له نوي حکومت سره د عامو خلکو ملاتړ ملګری نه سو. حکومت د خلق ډیموکراټیک ګوند د غړو له خوا د ناکراریو په مخنیوي او هغوی ته په سزا ورکولو کې ناکام سو او ډېر هغه کسان یې چې په ناکراریو کې یې برخه اخیستې وه تجرید کړل. د اطرافو ځینو مشرانو ټینګې مذهبي ډلې جوړې کړې، په زرهاوو طرفداران یې پیدا کړل او د کابل د لارو کوڅو په مظاهرو کې یې د خلق ډیموکراټیک ګوند له غړو سره مقابله پیل کړه. دوی د اساسي قانون ملاتړ هم ونه کړ ځکه چې دوی ویل د همدغه قانون موادو د خلق ډیموکراټیک ګوند ته اجازه ورکړې ده چې د مذهب پر ضد عمل وکړي.
کلیوالي او اطرافي سیمو له حکومتي وظایفو سره چنداني علاقه نه ښودله او له دغه امله په حکومت کې د کابل د اوسېدونکو منورینو شمېر زیات سو. د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ په لسیزو کې، د تعلیم او تربیې په سستم کې د اصلاحاتو له برکته، تعلیم یافته کسان زیات سول او په سلو کې ۹۰ تنه یې په حکومتي کارونو لګیا سول. د رقابتي مرستو د پروګرام له امله د افغانستان اقتصاد ښه په وده کې سو نو د نویو فارغ سویو کسانو لپاره د استخدام ساحه پراخه سوه. خو د ۱۹۶۰ د لسیزې تر پایه پورې، متحده ایالاتو او شوروي اتحاد دواړو له افغانستان سره خپلې مرستې کمې کړې. اقتصاد وار په وار له ودې ولوېدی او اکثر تعلیم یافته افغانان یا بېکاره پاته سول او یا په حکومت کې په داسي کارونو وګومارل سول چې د دوی تر تعلیمي سویې ډېر ټیټ وه. بېکاره پاته سویو فارغانو چې د اقتصاد ورو پرمختګ ته کتل او له بلې خوا یې کتل چې زیاتره ښه وظایف او کارونه د قدرت د خاوندانو خپلوانو ته ورکول کېږي نو یې د چپي ایډیالوژی منلو ته مخه کړه.
د حکومت پرله پسې بې وسی او بې صلاحیتی عمومي ناراضاییت زیات کړ. د ۱۹۷۰ او ۱۹۷۱ کلونو د قحطی له امله تقریباً سل زره کسان مړه او ډېر زیات څاروي تلف سول. حکومت په دغه بحران کې یو ډول بې وسي او نالایقي وښودله. پر حکومت باندې راز راز تورونه ولګېدل او کرار کرار یې مشروعیت ته صدمه ورسېدله. که څه هم چې د خلق ډیمکراټیک ګوند سره د ناکراریو د ایجادولو او په ۱۹۶۷ کال کې، د شخصي مخالفتونو له امله، د خلق او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

پرچم پر دوو ډلو وېشل کېدلو په خاطر، له هغوی سره، د خلکو ملاتړ کم سو خو له حکومت څخه عمومي ناخوښی د مخالفو ګوندونو او ډلو ملاتړ زيات کړ.
چپي ګوندونو، په دغو شرايطو کي، په پوځ کي نفوذ زيات کړ. چپيانو هم خپلو غړو ته مسلکي روزني ورکړي او هم يې له ملکي اقتصاد سره تماسونه زيات کړل او پوځيان، چي له ډيرو اړخونو، د افغانستان په ترټولو عصري اجتماعي موسساتو کي روزل سوي وه، په دې حالت کي بېطرفه نه سوای پاتېدلای. د مشروطه شاهي په دوران کي، د افغانستان څو کابينو له پوځ څخه وغوښتل چي د نظم ساتنه وکړي. پوځ دا کار وکړ او شاهي رژيم ته يې خپله وفاداري وښودله خو د سيستم ناکامی، پوځي افسران هم بالاخره ماءيوس کړل او له شاهي رژيم سره يې وفاداري کمه سوه. دغه ته ورته پيښي د دريمي نړۍ په نورو هيوادونو کي، چي پوځ يې په عصري کولو کي مخکښه برخه درلوده، هم منځته راغلي. په هغو هيوادونو کي چي ملکي حکومتونه غښتلي او با ثباته وه، هلته پوځيانو حکومت ته چنداني خطر نه پيښاوه. خو د افغانستان بې ثباته وضعيت يو شمېر صاحب منصبان په دې عقيده کړل چي د يوې بلې لاري د پيدا کولو په لټه کي سي. څرنګه چي د افغانستان پوځيان له ډيرو عصري سيستمونو سره بلد سوي وه نو دغه روان اقتصادي رکود يې نه سوای زغملای او د چټکو اصلاحاتو غوښتنه يې کوله. دې صاحب منصبانو له شوروي سلاکارانو سره د نيژدې تماس له امله له کيڼ اړخو ډلو سره علاقه وښودله او کرار کرار د هغوی سره په ګوندونو کي شامل سول؛ چي په موجود اقتصادي اجتماعي سستم کي يې د ژورو او زياتو اصلاحاتو غوښتنه کوله.
په شوروي اتحاد کي، ټول افغان صاحب منصبان مجبور ول چي په ډيالکتيک او تاريخي ميټرياليزم ځانونه پوه کړي او د کمونيستانو د بين المللی تحريک تاريخ ولولي. خو ډېر داسي صاحب منصبان وه چي په شوروي اتحاد کي له تحصيل څخه وروسته، د هغه هيواد د نژادپالني له سستم او د اسلام دين ته د هغوی د سپکاوي کولو له امله، له شوروي اتحاد سره مخالف سول. شوروي ايډيالوژۍ د صاحب منصبانو ډېر کوچنی اقليت ور جذب کړ مګر تر ۱۹۷۳ کال پوري تقريبا شپږ سوه صاحب منصبانو د خلق ډيموکراتيک ګوند او د هغه د چپي پروګرامونو ملاتړ کاوه. تر دغه وخته پوري ډېر هغه صاحب منصبان چي په شوروي اتحاد کي يې تحصيل کړی وو د جګړن او ډګروال رتبي ته رسېدلي وه او په پوځ او هوايي قوه کي يې حساس ځايونه نيولي وه. رژيم د خپلو جنرالانو فعاليتونه او تمايلات له نيژدې څارل خو نورو عالي رتبه صاحب منصبانو، چي ځانونه يې له انقلابيانو سره تړلي وه، ويل چي هغوی په انقلاب کي چنداني څه له لاسه نه ورکوي. ډګروالانو او جګړنانو د حکومت د بې کفايتی څخه سر ټکاوه او له هغو عالي رتبه صاحب منصبانو څخه يې شکايت کاوه چي زاړه سوي او له کاره لوېدلي دي.
په اساسي قانون کي يوې وروستی اشتباه د ډيموکراسی تباه کولو ته لاره هواره کړه. د اساسي قانون د ځلېرويشتمي مادې په اساس، د پاچا د کاکاګانو او د کاکا د زامنو په شمول، د شاهي کورنی ټول غړي د حکومتي چوکی له نيولو څخه محروم سوي ول. د قانون دغي مادې هدف دا وو چي پاچا له انتقادونو څخه وساتي او داوود خان له سياست څخه ګوښه کړي. د قانون ځلېرويشتمي مادې پخوانی صدراعظم ډېر په غوسه کړ. هغه ته له حکومت سره د مخالفت کولو بله لاره پاته نه سوه او د ۱۹۷۳ کال د جولای پر اووه لسمه يې، د ۶۴ کالو په عمر، د ځوانو صاحب منصبانو په همکاری، يوه سپينه کودتا وکړه.داوود خان خپل ځان د اسلامي جمهوريت جمهور رئيس اعلان کړ او د خلق ډيمکراتيک ګوند د پرچم د اړخ اته تنه پيژندل سوي غړي، يا پخواني غړي او يا طرفداران يې د کابينې د وزيرانو په حيث اعلان کړل.
که څه هم چي داوود خان په لومړي سر کي د سوشليزم سره برابري پاليسی اعلان کړې اوله شوروي اتحاد سره يې اړيکي زيات کړل خو وروسته يې کوښښ وکړ چي ځان له شوروي اتحاد او د خلق له ډيموکراتيک ګوند څخه ليري کړي. داوود خان، تر ۱۹۷۶ کال پوري، ټول پرچميان له کابينې څخه ايستلي ول او په هيواد کي يې د شوروي د مشاورينو شمېر له ۱۰۰۰ تنو څخه ۲۰۰ ته را کم کړ. ده په ډېره څيرکتيا، د پرچم د ګوند د صفوفو غړي اطرافو ته واستول او پلمه يې دا وه چي غواړي په هيواد کي اساسي تغييرات راولي ځکه دی په دې پوهېدی چي کليوال افغانان به له هغوی سره همکاری کولو ته زړونه ښه نه کړي. اکثر پرچميان ډېر ژر له بېسوادو کليوالو سره له کار کولو څخه ناراض او ستړي سول او له کاره يې استعفی وکړه. داوود خان دغه راز د اقتصادي مرستو په پروګرام کي هم تغيير راووست او له متحده ايالاتو، لوېديځ آلمان، چين، هند، سعودي عربستان او تر ټولو زيات يې له ايران څخه د مرستو غوښتنه وکړه. د ايران شاه، د ۱۹۷۴ کال د جولای په مياشت کي، له افغانستان سره د دوو ميليارډو ډالرو مرستي ژمنه وکړه او دا تر ټولو هغو مرستو زياته وه چي شوروي اتحاد او متحده ايالاتو له ۱۹۵۳ کال راهيسي له افغانستان سره کړي وې. خو د داوود خان په حکومت کي بې کفايتي او تنبلي په يو ډول ناروغی تبديلي سوي وې.
د ۱۹۷۰ د لسيزي تر وروستيو کلونو پوري داوود خان ټول ګوندونه منع کړل او ټولي مخالفي ډلي يې پټ فعاليت کولو ته مجبوري کړې. ښي اړخو اسلامي ډلو په کابل کي د تشدد عملونه وکړل او خپل عکس العمل يې وښود او د کودتا ناکام کوښښونه يې وکړل. په دې ګډوډي کي د خلق ډيمکراتيک ګوند بيرته سره يو ځای سو او دا تقريبا يقيني ده چي د شوروي په تشويق يې عمل وکړ. د ۱۹۷۸ کال د اپرېل پر اووه لسمه يو مشهور پرچمي ميراکبر خيبر ووژل سو. د هغه په جنازه کي ډيرو زياتو کسانو او د څوګوندونو غړو برخه واخيستله. حکومت د خلق ډيموکراتيک ګوند څو لوی مشران بنديان کړل؛ او داوود خان په نظر کي درلودل چي ټول اعدام کړي. داوود خان څو تنه د کښتني رتبي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

مشران، چي په هغو کي حفیظ الله امین هم شامل وو، بندیان نه کړل. حفیظ الله امین، که څه هم چي په کور کي بندي وو، له ډېرو زیاتو کسانو سره تماسونه ټینګ کړل او د کودتا پلان یې طرح کړ. داوود خان دغه راز یو شمېر هغه صاحب منصبان هم بندیان نه کړل چي د خلق ډیموکراټیک ګوند طرفداران ول او هغوی یې په خپلو مرکزونو کي پرېښودل.

د اپرېل پر اووه ویشتمه، دغو په شوروي اتحاد کي روزل سویو، ناراضي صاحب منصبانو، چي ځیني یې د خلق ډیموکراټیک ګوند غړي او ځیني یې طرفداران ول د حکومت پر ضد قواوي را وایستلې. جګړن محمداسلم وطنجار د جمهوري ریاست پر قصر باندي حمله وکړه او هغه کار یې تکرار کړ چي په ۱۹۷۳ کال کي یې کړی وو؛ او د دفاع پر وزارت باندي یوې بلي حملې د حکومت د ارتباط ټینګولو او مخابراتو قدرت شنډ کړ. ضمنا ډګروال قادر، چي ویل کیږي د کودتا رهبري یې پر غاړه وه، د داوود خان پر طرفدارانو باندي حمله وکړه او د قواوو انډول یې د ښورښیانو په ګټه کړ. ځینو قطعاتو له ښار څخه ټینګه دفاع وکړه. د ارګ د تقریبا ۲۰۰۰ ساتونکو ډېرت زیات کسان په جنګ کي ووژل سول. د وسله والو قواوو اکثرو قطعاتو په جنګ کي برخه وانه خیستله.

ملکي خلکو چنداني علاقه ښکاره نه کړه. لویي دوپرې، چي د دې صحنو شاهد وو، ولیکل چي « د ښار خلک، د خطر سره سره، یوې خوا او بلي خواته تلل او پر بس موټرونو باندي یې بیروبار جوړ کړی وو. ټکسي موټرونو د تېلو له ټانکونو سره هارنونه ورکول او له یوه بل څخه مخکي کېدل. په ځینو ځایونو کي ټرافیکو ټانکونو ته اشارې کولې چي له سړکونو څخه ګوښې ته واوړي. ټانکونو د هغوی په اشارو کي ری نه واهه او د خپلو اهدافو پر لور یې حرکت کاوه.»

خلکو دغه راز بې علاقه ګي او بې تفاوتي د ۱۹۷۳ کال په کودتا کي هم ښکاره کړې وه او دې بې تفاوتی سابقه درلوده؛ داوود خان، د خپل قدرت په دوره کي، د خلکو ملاتړ ترلاسه نه کړ. عادي افغانانو لکه د اساسي قانون سره چي یې علاقه نه وه ښودلې د ده له جمهوریت سره هم چا علاقه ښکاره نه کړه. د ده د سختي اداري او د مخالفینو د ځپلو له پالیسیو سره ډېرو کسانو مخالفت ښودلی او نارضاییت یې ښکاره کړی وو. د ناراضي خلکو اکثریت د اسلامي ګوندونو ملاتړ کاوه. داوود خان د خپلو استخباراتو په وسیله د دغو اسلامي ډلو ځپلو ته پام اړولی وو او فکر یې کاوه چي د خلق ډیموکراټیک ګوند تاوان نه سي ورته رسولای.

پوځیانو، له یوې لنډي وقفې وروسته، قدرت د خلق ډیموکراټیک ګوند ته تسلیم کړ. تره کی جمهور رئیس سو، حفیظ الله امین د داخلي امنیت وظیفه واخیستله او په لږ وخت کي یې پرچمیان تصفیه کړه. دوی ببرک کارمل او نور تبعید کړل او تش په نامه یې سفارتونه ور ور وسپارل او چي مهم پرچمیان نه وه هغوی یې یا بندیان او یا اعدام کړل. خلقیانو د خپل قدرت په ټوله دوره کي هغه کسان بندیان او یا اعدام کړل چي دوی فکر کاوه د دوی سیاسي او یا ایډیالوژیکي مخالفین دي او په دې لړ کي یې ډېر زیات منورین ووژل.

خلقیانو چي کله یو ځل په قدرت کي ځانونه ټینګ کړل نو د خپلو اقتصادي او اجتماعي اصلاحاتو په وسیله یې، چي اکثر یې د اسلام د مذهب او افغاني عنعناتو سره مخالف وه، خلک د امان الله خان د وخت د اصلاحاتو په څېر راوپارول. د خلقیانو تر ټوله لویه ناکامي د هغوی د مځکو د اصلاحاتو په پروګرام کي وه. خلقیاو کوښښ وکړ چي، د دوی په اصطلاح، مځکو ته وږي بزګران ماړه کړي، خو په نتیجه کي یې د غنمو حاصلاتو ته ډېر سخت تاوان ورساوه. خلقیانو د ګرو کړیو مځکو او جایدادونو او د سود اوسلم د پیسو په بخښلو او د مځکو د وېشلو په وسیله، ټول هغه سسټم ګډ وډ کړ چي په افغانستان کي د مځکو د مالکیت او کلیوالي ژوند اساس وو. دوی په دې وسیله بزګران د سود او سلم د پیسو له ترلاسه کولو څخه محروم کړل او په دې توګه یې هغوی عملا د کښت او کروندې څخه راوګرځول. له بلي خوا، دهقانانو د مځکو غصبول هم د اسلامي قوانینو څخه سرغړونه او هم د خپلو ملي عنعناتو سره خیانت باله،

خلقیانو په خپل بل فرمان کي، ښځو او نارینه و ته مساوي اجتماعي، اقتصادي او مدني حقوق اعلان کړل. د ښځو لپاره یې زده کړه جبري کړه او ولور یې تقریبا له منځه یووړ، د واده کولو لپاره یې عمر تعین کړ او د والدینو په خوښه یې د مېړه انتخاب منع کړ. که څه هم چي د دې فرمان عملي کېدل پخپله چنداني ممکن نه وو خو د پلارواکۍ پر سسټم باندي دې څرګندي حملې نارینه او ښځې دواړه ناراض کړل. د تره کي تر ټولو احمقانه عمل ښایي دا وو چي د بیرغ تور، سور او زرغون رنګ یې بدل کړ او ټول یې سور کړ، چي کټ مټ د شوروي اتحاد د مرکزي اسیا د جمهوریتونو په څېر ښکارېدی. ده وروسته امر وکړ چي په کابل کي دي ټول شیان په سره رنګ سي او حتی هغه کوتري یې هم سرې کړي چي د بیرغ د پورته کولو په مراسمو کي یې هوا ته خوشي کړې. شوروي اتحاد ته د تره کي څرګندي تسلیمی، اسلام، افغاني کلتور او ملي غرور ته د هغه مستقیم سپکاوي او پرله پسې زیاتېدونکي حکومتي استبداد په ټول هیواد کي ښورښونه را پارول. د خلق ډیموکراټیک ګوند سره عمومي مقاومت د ۱۹۷۹ کال د مارچ په میاشت کي په هرات کي څرګند سو. د هرات خلکو تقریباً پنځوس شوروي سلاکاران او د هغوی د کورنیو غړي او د خلق ډیموکراټیک ګوند څو سوه غړي، عسکر او طرفداران ووژل. حکومتي پوځیانوو د توپونو په زور، ښار تسلیمېدلو ته مجبور کړ او په دې ترڅ کي یې د هرات په زرګونو اوسېدونکي قتل کړل. ځیني منابع خو وایي چي د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هرات دغه ښورښ پر شوروپانو باندي ډېره ژوره اغېزه وکړه او، لږ وخت وروسته یې، پر افغانستان باندي د یرغل کولو پلان جوړ کړ.
شوروپانو لومړی د یوه سیاسي حل غوښتنه وکړه. په افغانستان کي د شوروي سفیر، چي تره کی او ببرک دواړه په خبر وه، د امین د وژلو کوښښ وکړ او غوښتل یې چي د رژیم ټوله ناکامي پر هغه تاوان کړي. امین په دې پلان خبرسو او د تره کي سره مجلس ته مسلح ورغی او په عوض کي تره کي ټپي او وروسته ووژل سو ( تره کي ونیول سو او وروسته، د امین په امر، په زیندئ ووژل سو. جهاني ) امین د سپټمبر په میاشت کي قدرت ونیوی. د مخالفینو د ځپلو دوام، اقتصادي رکود او د خلق ډیموکراتیک ګوند دا شهرت، چي له اسلام سره دښمن او له شوروي اتحاد سره دوست دی، امین، ټولو ستونزو ته، یوازي پرېښود. د افغانستان په ټولو ولایاتو کي ښورښونه پیل سول او ځیني ولایات خو، په بشپړه توګه، د مجاهدینو لاسته ولوېدل. ځیني عسکري قطعات، خو له وسلو سره، له مجاهدینو سره ملګري سول او ځینو په خپلو عسکري قشلو کي د کودتاوو کوښښونه وکړل.
د هماغه کال د ډسمبر په میاشت کي، شوروپانو پر افغانستان باندي حمله وکړه. هغه شوروي صاحب منصبان، چي ظاهراً د افغانستان د پوځیانو د روزلو لپاره هغه هیواد ته تللي او هلته اوسېدل، په دغه یرغل کي بې اندازي ارزښتناک ثابت سول. هغوی، په ډېر بریالیتوب، افغان صاحب منصبان وغولول. مهمات یې لیري کړل، له لویو موټرونو څخه یې بېټری وایستلي او افغاني صاحب منصبانو ته یې داسي وښودله چي دا کارونه د ترمیمولو، پاکولو او د ژمي لپاره د تیاری نیولو لپاره کوي. دوی په دې توګه افغان صاحب منصبان خلع سلاح کړل او د هوا له لاري راغلیو عسکرو یې په کابل کي حساس ځایونه اشغال کړل. د کابل ډیرو خلکو او د خلق ډیموکراتیک ګوند صاحب منصبانو په دې عملیاتو کي ری نه واهه او فکر یې کاوه چي دا د شوروي قواوو د پوځونو د اکمالولو یوه برخه ده. د امین محافظینو له شوروي قواوو سره مقاومت وکړ مګر هغوی غلبه ورباندي وکړه او د نښتي په ترڅ کي یې امین وواژه. ضمنا د شوروي زغره وال وسایط، په ډېره چټکي، د افغانستان مهمو لویو لارو ته ورسېدل او په ټولو لویو ښارونو کي ځای پر ځای سول. له شوروي قواوو څخه، په ټولو عملیاتو کي، څه کم دری سوه تنه ووژل سول. خو په وروسته لسو کالو کي یې تلفات زرګونو ته ورسېدل.
د افغانستان تر جنګ پوري د پیل کېدلو لاره یقینا چي ډېره پېچلي وه. په قوانینو کي ناکامیو، په خلق ډیموکراتیک ګوند کي عمومي بې کفایتیو ناکراری راپورته کړې او د هغوی ناکامی ته یې لاره هواره کړه. د خلق ډیموکراتیک ګوند دسیسو او د داوود خان تاکتیکي اشتباهاتو د هغه اسلامي جمهوریت ناکام کړ. تر ټولو مهمه دا وه چي نه خلکو او نه صاحب منصبانو له پیښو سره علاقه وښودله او دغي عمومي بې علاقه ګی د داوود خان د ۱۹۷۳ کال د کودتا او د خلقیانو د ۱۹۷۸ کال د کودتا لپاره یې لاره هواره کړه. خلقیانو د امان الله خان له تجربې څخه پند نه وو اخیستی او دا د هغوی د ډېر ژر سقوط سبب سو او د دوی ناکامي د شوروي اتحاد پوځي مداخله په ځان پسي راوړه.
پخپله د داوود خان دا فیصله چي له شوروي اتحاد څخه یې پوځي مرستي ومنلي باید چي د شوروي د یرغل لپاره یو ریالیستیک امکان وبلل سي؛ ځکه چي له دې مرستو سره هغوی په پوځ کي چپي عناصر وروزل. داوود خان هر وخت په دې پوهېدی چي شوروپان له افغانستان سره د خپلو ګټو لپاره مرستي کوي؛ مګر ده هر وخت دا استدلال کاوه چي شوروپان به پر افغانستان باندي د حملي کولو خطر ونه مني ځکه چي افغانستان به یې په اقتصادي لحاظ تر غاړي سي او د هغه د اقتصاد کنټرولول به هم ډېر مشکل او هم ډېر ګران ورته پرېوزي. ده ویل چي که روسان پر افغانستان باندي یرغل وکړي نو دا به د اسیا او افریقا په بېطرفو هیوادونو کي له دوی سره مخالفتونه را پیدا کړي. یوه بل افغان لیکوال هم په ۱۹۶۸ کال کي دغه ته ورته نظر درلود. (مطلب یې ډاکټرنیک محمد کامراني دی. جهاني)
هغه ویل چي که سړی په افغانستان کي د شوروي اهدافو او نیتونو ته وګوري نو پر دې هیواد باندي د شوروي مستقیم یرغل چنداني منطق نه لري. ځکه برسېره پر دې چي افغانان به د ګیریلایي جنګونو له لاري، له شوروي اتحاد سره مقاومت وکړي هغه هیواد به په نورو بېطرفو هیوادونو کي اعتبار له لاسه ورکړي. ده ویل چي که شوروي اتحاد پر افغانستان باندي یرغل وکړي نو د نړی د عامه ذهنیت له مخالفت او د اسلامي اسیا او منځني ختیځ د تقریبا دریو سوو میلیونومسلمانانو له مخالفت سره به مخامخ سي.
په دې استدلالونو کي یوه اندازه منطق سته او یوازي افغانانو نه بلکه ځینو امریکایانو هم دغه ته ورته استدلال کاوه. د ګیریلایي جنګ تهدید او د نړی والو مخالفت د شوروي د یرغل په مقابل کي یو خنډ کېل کېدلای سوای. مګر دې خبري ته هم باید توجه وکړو چي په انګولا، حبشه او جنوبي یمن کي شوروپانو خپل طرفدار رژیمونه، په دغه توګه، منځته راوړي او تجربه کړي وه؛ او په همدغه وخت کي په ایران کي د امریکایانو د یرغمل کېدلو موضوع هم د نړی توجه ور اړولي وه او شوروي اتحاد دغه نړی وال شرایط د خپل ځان په ګټه بلل. او په عین حال کي شوروي اتحاد هم، د نورو لوېدیځو هیوادونو په څېر، د افغانانو ګیریلایي مقاومت ته چنداني اهمیت نه وو ورکړی. د شوروي له خوا د افغانستان د پوځ کنټرول هم هغوی ته یو تاکتیکي بری وروبه برخه کړی وو او دې کار هم د یرغل بریالي کېدلو ته خوشبین کړي وه. که دا حقیقت په نظر کي ونیسو چي په افغانستان کي د شوروي لاس وهني هغوی ته د ورانکاری دا زمینه برابره کړه چي دوو حکومتونو ته یې سقوط ورکړ؛ سړي ته دا سوال پیدا کیږي چي د همدغو خنډونو د موجودګی په صورت کي به، د لوېدیځو هیوادونو اقداماتو د شوروي د یرغل مخه نیولي وای کنه؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ